SHARIAT WEEKLY
شریعت
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارګان
ځلورم کال ځلور دیرشمه ګڼه پرله پسې (۲۲٤) يکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د محرم الحرام (۳۰)د۱۳۷۸هـ ش کال د غوايي دمياشتي(۲٦)د۱۹۹۹ميلادي کال د مي (۱۷)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا(پرهيزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

قريه مرزا و لنگ ولسوالي صياد ولايت سر پل از لوث مليشه هاي جنايتکار پاک گرديد

قريه مرزا ولنگ ولسوالي صياد ولايت سرپل اخيراً از وجود مليشه هاي جنايتکار که با اخلال گري هاي شان زندگي مسالمت آميز مردم آن منطقه را بر هم ميزدند پاکسازي و امنيت مطمئن در ان منطقه تامين گرديده است .

اژانس اطلاعاتي باختر از ولايت سر پل خبر ميدهد : در نشستي که قبل از ظهر ديروز به اشترك محترم مولوي امين الله امين سرپرست ولايت سر پل ولسوالي ، موسفيدان و اهالي متدين قريه مرزاولنگ ولسوالي صياد آن ولايت در مهمانخانه ولايت سر پل تدوير يافته بود محترم سرپرست ولايت سرپل ضمن توضيح و تشريح دسايس و ترطئه هاي شوم مخالفين امارت اسلامي از تامين امنيت مطمئن و پاکسازي قريه متذکره از وجود مليشه هاي جنايتکار به اهالي منطقه مذکور اطمينان داده و آنان را متوجه وظايف ديني شان در امر تحقق اهداف و دست آورد هاي امارت اسلامي و خنثي ساختن دسايس و توطئه هاي دشمنان وطن ساخت بالمقابل تني چند از موسفيدان آن قريه بالترتيب ضمن ابراز امتنان از تامين مطمئن در مناطق شان وعده سپردند که تا آخرين امکانات بخاطر تحقق اهداف و دستاورد هاي امارت اسلامي آماده هر نوع ايثار و جانبازي ميباشند.

کـــــار اعمار پل ساحه بند برق نغلو آغاز گـــرديد

کار اعمار مجدد پل ساحه بند برق نغلو کـه سـرويي را بـه ولسـوالي تگاب وصل مينمايد ديروز آغاز گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : اين پل که داراي چار متر عرض و نود و هفت متر طول ميباشد و در اثر تجاوز روسها و جنگهاي بي مفهوم رژيم قبلي تخريب و غير قابل استفاده گرديده بود اخيراً بنا به توجه رياست عمومي احياء و انکشـــاف دهات و همکاري مـــالي و تخنيکي دفتر انکشافي سازمان ملل متحد به مصرف بيست هزار دالر دو باره ترميم و مورد استفاده قرار ميگيرد.

با ترميم مجدد پل متذکره علاوه ازينکه ساحه بند برق نغلو از خطر... ص ٤

ص ٤

د اسلامي امارت د چارواکو د پاملرنې له امله :

د جنګلك د کار خانو تصدي په سلو کي پنځوس د توليدي فعاليت لپاره تياره ده

همدا اوس د دوه ساختماني دستګاو لخوا د فابريکي د بيا رغوني او ترميم کار دوام لري

د جنګلك د کارخانو تصدي له دي سره سره چي د تير رژيم د جګړو له امله په بشپړه توګه ويجاړه او ټول تجهيزات او ماشين الات يې له منځه تللي و د اسلامي امارت د چارواکو د څارني او پاملرنې له امله په سلو کي پنځوس د توليدي فعاليت لپاره تياره ده او د ادارو موسسو او انفرادي افرادو د اړتيا وړ اقلام توليدوي.

٤ مخ

د کندز ولايت د شريعت غږ راډيو په آمريت کې :

پرتمينه مشاعره جوړه شوه

د کندز ولايت د اطلاعاتو او کلتور د رياست د ادبي ټولني لخوا د هغه ولايت د ښاروالي په مرسته پرون د کندز ولايت د شريعت غږ راډيو په امريت کې د مشاعري غونډه جوړه شوه .

د کندز له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي غونډه کي له هغه وروسته چي د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول د کندز والي محترم محمد عارف خان د هيواد په فرهنګي برخه کي د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو او اقداماتو په اړوند په خپلو خبرو کي ددغه ډول غونډو جوړيدل ارزښتناك او ګټور وبلل.

وروسته د هغه ولايت ۱۵ تنو شاعرانو په وار سره خپل شعرونه ولوستل چي د حاضرينو خوښ شول.

په غونډه کي د امارتي ادارو مشرانو ٤ مخ

تحرکاتي که به قوماندە و حمايت اجانب به راه انداخته شود به جز شکست و رسوايي چيزي در قبال نخواهد داشت

سلطه جويي مخالفين فقط بخاطر اشباع غرايز شيطاني آنها بوده و کدام پيام سعادت مند با خود ندارد

دشمنان امارت اسلامي به تحريك اجانب ميخواستند فضاي صلح و آرامش بعضي از مناطق کشور را مختل سازند ولي به فضل و نصرت خداوندي«ج» و ضربات کوبنده مجاهدين اردوي اسلامي نه تنها اينکه تعرضات شان به عقب زده شد بلکه مناطق زيادي از تسلط ظالمانه شان بدر رفت . پيروزي هاي اخير اردوي اسلامي نمايانگر اين حقيقت است که اهالي متدين و مسلمان شمال کشور همچو اهالي ديگر مناطق کشور آماده هستند تا به قيمت جان هاي شيرين خود از اهداف و مقاصد شرعيه امارت اسلامي دفاع نمايند.

اهالي شريف و صلحجوي مناطق شمالي و مرکزي کشور به اين حقيقت رسيده اند که سلطه جويي مخالفين فقط و فقط به خاطر اشباع غرايز وحشيانه آنها است و ديگر کدام پيام سعادت مند ، پيامي که صلح و آرامش در آن نهفته باشد ندارد . جرايم و جناياتي که در مناطق مرکزي کشور در همين اواخر از طرف مخالفين در برابر اهالي مظلوم آن مناطق صورت گرفته خود شاهد اين مدعا است . بعد از جريانات اخير شايد خود مخالفين نيز اين واقعيت را بخوبي درك نموده باشند که دوام مخالفت با امارت اسلامي در حقيقت به معناي دوام مخالفت با اراده قاطع ملت مجاهد افغانستان ميباشد و تحرکاتي که به قوماندە اجانب صورت ميگيرد به جز از تباهي و ويراني کشور نتيجه ديگري در قبال نخواهد داشت.

د SNA يا د سهار د خبري آژانس رئيس محترم استاد ولي الله سليم شريعت اوونيزي ته د باميانو له سفر وروسته وويل :

ما اووه آسيايي او افريقايي هيوادوته سفر کړيدي خو داسي ډاډمن امنيت مي نه دي ليدلي

د طالبانو مشران ساده ژوند لري

کله مو چي له کابل څخه د باميانو په لور حرکت پيل کړ ځرنګه چي طالبانو له دښمن څخه ډيري سيمې تر خپل کنترول لاندې راوستي وي نو هيڅا هم د خطر احساس نه کاوه

محترم سليم وويل : داسي امنيت چي ما د طالبانو په سيمه کي وليده هلك يك حيران شوم ځکه ما اووه آسيايي او افريقايي ملکونو ته سفر کړي په هيڅ ملك کي مي داسي ډاډمن امنيت نه دي ليدلي .

مونږ ځلورو ملګرو مابښام د باميانو څخه د کابل په طرف حرکت وکړ او د شپي په يوه بجه د حاجي ګك په کوتل راواوښتو .

محترم استاد ولي الله سليم د طالبانو د قوتونو د تنظيم او امنيت په هکله داسي وويل : زه په ډير تعجب کي شوم ځکه کله به مو چي د طالبانو د محلي قوماندانانو څخه څه وپوښتل نولو به د اوويل چي زمونږ له مشرانو سره وګوري او خپل مشکل حل کړي.

نوموړي د طالبانو د ساده ژوند په هکله داسي ووېل په حقيقت کي د طالبانو مشرانو ساده ژوند درلود چي ددغه ثبوت دا دي چي د سرپرستي شوري مرستيال محترم مولوي عبدالکبير د جنګ په کرښه کي د ميدان هوايي تر څنګ د ساده کور په بام يوه ډوډۍ عـادي پوزي ته ډوډۍ لګولي وه (٤ مخ)

د سمنګانو ولايت د دره صوف ولسوالي د هزاره قوم مشرانو د دښمنانو د توطئو په شنډولو کي خپل تياري څرګند کړ

د سمنګانو ولايت د دره صوف ولسوالي د بيلا بيلو کليو د هزاره قوم سپين ږيرو مشرانو او مخورو د باميانو له والي محترم مولوي محمد اسلام محمدي سره د کتني په ترڅ کي د افغانستان د خلکو د دښمنانو د دسيسو او توطئو د ٤ مخ

مصارف يکـــــماهه ليليه پوهنتون کـــابل بر ۱۵۳۲۸۳.۵۰ افـــغاني بالغ مــيــگردد

شريعت : محترم قاري اجمل معاون تعليم و تربيه پوهنتون کابل در رابطه به اجراآت رياست عمومي پوهنتون کابل به خبرنگار اعزامي هفته نامه شريعت چنين معلومات ارائه داشتند :

فعلاً بر علاوه از محصلين طب ص ٤

بخاطر حل معضلات درسي و اکاديمك :

شوراي رهبري و استادان مؤسسه طب کابل داير گرديد

بخاطر حل معضلات درسي ارتقاء سويه دانش محصلان و رفع پرابلم هاي اکادميکي شوراي وسيع رهبري و استادان مؤسسه طب کابل قبل از ظهر ديروز در آن مؤسسه داير گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در آغاز آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت گرديده بعداً محترم الحاج مولوي محمد فاضل رئيس موسسه طب کابل گزارش مفصلي در باره وضع فعلي پوهنځي هاي طبي، تعداد محصلان، استادان، مشکلات درسي اعم از کمبود کتب درسي، مواد لابراتواري و تجهيزات علمي و تدابير معيني که بخاطر رفع دشواريها اتخاذ شده به شورا ارائه نمود.

متعاقباً محترم الحاج مولوي حمد الله نعماني سرپرست وزارت تحصيلات عالي با درنظر داشت امکانات مالي و اقتصادي فعلي امارت اسلامي و جلب مساعدت هاي عملي کشور هاي داراي حسن نيت به امارت (ص ٤)

نتايج مسابقات جودو اعلام گرديد

شريعت : سلسله مسابقات جودو که بين تيم هاي مختلف کلپ هاي آزاد و موسسات ورزشي از يك هفته به اين طرف در ستديوم ورزشي کابل براه اندازي گرديده بود نتايج آن قرار ذيل است : محترم احمد قيس از کلپ المپيك در وزن ۸۰ کيلو گرام حايز مقام اول .

محترم ذبيح الله از کلپ اردو در وزن ۸۰ کيلو گرام مقام دوم .

محترم واصف حسين از کلپ المپيك در وزن ۷۵ کيلو گرام حايز مقام اول

محترم نثار از کلپ اردو مقام دوم

ص ٤

بخش اناثيه بانك خون مرکزي شب و روز در خدمت مريضان محترم قرار دارد

رياست بانك خون مرکزي در چوکات وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان فعاليت نموده و اهميت حياتي و اطمينان بخش را نزد مريضان و ضرورتمندان خون دارا مي باشد.

رياست بانك خون مرکزي با داشتن پرسونل فني در بخش هاي جداگانه اناث و ذکور در خدمت هموطنان و شهريان ما قرار دارد ، و تعداد بي شمار از خواهران ما به صفت داکتر ، فيزيولوژست، تکنيشن و فارمسيست در بخش اناثيه شب و روز در خدمت مريضان اناث قرار دارند.

بانك خون مرکزي براي بار نخست در سال ۱۳۳٦ درشفاخانه مستورات سابق توسط پوهاند داکتر محمد عثمان «انوري» متخصص نسايي و ولادي افتتاح و شروع به کار نمود و در آن هنگام وظيفه اين بخش را صرف تعيين گروپ خون تشکيل

ص ٤

محترم عبدالشکور «مطمئن» رئيس عمومي تربيت بدني و سپورت در مصاحبه با هفته نامه شريعت :

مسابقات جاري فتبال به اشتراك شانزده تيم کلب هاي آزاد کشور براه انداخته شده است

خواهـــــشمندم تا مسؤولين امارت اسلامي در رابطه به پرداخت حق العضويت فـــدراسيون هاي بين المللي توجه لازم نمايند

خوانندگان و علاقمندان محترم روز نامه شريعت !

غرض ازدياد معلومات شما عزيزان در رابطه به فعاليت هاي کميته ملي المپيك و مسابقات جاري فتبال در شهر کابل مصاحبه کوتاهي با رئيس کميته ملي المپيك انجام داده ايم کـه خدمت شما عزيزان تقديم ميگردد.

محترم مطمئن در مورد مسابقات جاري فتبال در ستديوم ورزشي کابل نتايج آن چنين معلومات ارائه نمودند: مسابقات فعلي فتبال طبق قوانين بين المللي فتبال (ص ٤)

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په نيويارك کي د ۲+٦ پټه غونډه خو به يو بل جنجال نه رامينځ ته کوي ؟

ملګري ملتونه د افغانستان په هکله له يو کال نه زياته موده وشوه چي ددغه (۲+٦) فارمول په هکله تبليغات کوي، په دغه ټوله موده کي به يې ويل چي وخت يې نه دي تاکل شوي مګر ځاي به يې تاشکند يادواه؛

لکه څرنګه چي له پيل نه د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو ټول نوښتونه، له بده مرغه ، ناکام او بي ګټي ختلي دي ددغه ساده - مګر پيچلي- رياضي فورمول (۲+٦) په هکله هم د ذهنيتونو اخستنه (برداشت) سوړ او ناهيلي دي؛

هغه له دي امله چي د ملګرو ملتونو د نوښتونو او طرحو بنسټ کله هم په داسي معلوماتو نه دي ايښودل شوي چي هغه دي د هيواد له

۲ مخ

به سرويس گوش و گلو شفاخانه رابعه بلخي روزانه به تعداد ۵۰-۱۰۰ مريض مراجعه مي نمايند

شفاخانه رابعه بلخي يکي از شفاخانه هاي فعال و اساسي اناث در شهر کابل بشمار ميرود . خبرنگار هفته نامه شريعت جهت معلومات بيشتر خوانندگان ارجمند از سرويس گوش و گلو گـذارشي را تهيـه ديده است کـه با هم ميخوانيم :

محترمه دکتورس لطيفه «واي» شف سرويس گوش و گلو شفاخانه رابعه بلخي پيرامون فعاليت هاي اين سرويس چنين معلومات ارائه نمودند :

سرويس گوش و گلو شفاخانه رابعه بلخي روزانه بـه تداوي دو نوع (ص ٤)

په ننګرهار کي د واليبال لوبي پاي ته ورسيدي

د المپيك د رياست له تدابيري پلان سره سم په دي وروستيو وختو کي د ننګرهار په ولايت کي د منتخبو ټيمونو تر منځ د واليبال په زړه پوري لوبي وشوي چي په نتيجه کي د ننګرهار ولايت د لومړي لمبر قول اردو د واليبال د الف ټيم لومړي مقام وګاټه

په دغو لوبو کي چي د ختيځ د ورزشي آمريت لخوا ددغه زون د اړوندو ولايتونو د ۲٤ ټيمونو تر منځ پيل شوي وي د ننګرهار د لومړي لمبر قول اردو د واليبال د الف ټيم لومړي مقام وګاټه او د اتلولي کپ يې تر لاسه کړ .

د قول اردو د قوماندانۍ د واليبال ټيم دويم مقام او د برادران صوفي د واليبال ټيم دريم مقام وګاټه .

د يو بل خبر له مخي د فتبال د هغو لوبو په دوام چي د کابل ښار له ازادو کلپونو او ورزشي موسسو نه د ۱٦ ټيمونو (٤ مخ)

شريعت

دتاسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
دبوي گڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱
په پيښور کي : دطالبانو نمايندگی تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

متن څخه له هغو خلکو نه راغونډ شوي دي چي د عيني حقايقو او واقعيتونو گواهان او هر څه بي په سترگو ليدلي وي بلکي د «حاشيه روي» له مخي د م.م ټول استاځي زمونږ د هيواد په هکله له بهرنيو اشخاصو يا هغو افغانانو څخه پوښتني کوي او معلومات راغونډوي چي هغوي په لسگونو کلونه له هيواد نه بهر اوسيږي او له هيواد سره بي اړيکي يوازي د اوريدلو پاتي وي نه د ليدلو او کتلو، په هغه پرسيره له ځينو هغو سره د شخصي پيوند گلوي او اړيکو پوښتنه له دي نه زياته مطرح وي چي د هيواد په عمومي مصالحو او ښيگڼو باندي فکر وکړي، نو ځکه د م.م ټولي پروسي له پيل نه تر نن ورځي پوري له بوي مخي نابريالي ختلي دي.

م.م که رښتيا په افغانستان کي سوله او ارامي غواړي نو په هيواد کي ميشت قاموته دي وگوري چي هغو له چا سره کلکه ملاتړلي ده ؟ د چا په قوماندي باندي خپل ځانونه قرباني ته وړاندي کوي ؟ امنيت په هيواد کي چا راوستلي دي؟ وسله چا ټوله کړه ؟ د چور، چپاول، پاټك سالاري او ناروا تيريو تغر له هيواد نه چا ټول کړ ؟ د هيواد والو د غوښتنو نظام (اسلامي شريعت) چاپلي کړ ؟

که ددي پوښتنو ځواب داوي چي داواړه برياوي د طالبانو اسلامي تحريك او بيا د افغان اسلامي امارت کړي دي او واړه دولس په گټه او پوره ملاتړ سره ترسره شوي دي خو معلومه شوه چي ولس همدغه اسلامي امارت خوښوي، تر څنگ بي ولاړ دي، نور هيڅوك او په هر نوم چي وي نه غواړي او نه بي مني، نو بيا د څه له پاره م.م خپلي ټولي هڅي ددغه نظام په خلاف عياري کړي دي ؟؟!

د مثال په توگه د هيواد د واکمن مسلط او د خلکو خوښ کړي نظام په ځاي بي د افغانستان د ولس څوکي په م.م ملتونو کي د داسي چا په واك کي ورکړي ده چي م.م بي پخپله هم مستحق نه گڼي ؟ م.م د څه لپاره د يوه داسي حکومت په هڅو کي دي چي هغه دي داسي پراخ بنسټه وي چي تعبير بي له روس او ايران سره دي ؟ دا هغه پوښتني دي چي له افغان مجاهد ولس سره مطرح دي او ځواب بي نشته دي؛ په تيره خو دا نوري نوي پوښتني له ټول ولس او سياسي کتونکو سره بي ځوابه دي چي :

د څه لپاره د (۲+٦) هيوادونو بيړني او پټه غونډه د تاشکند په ځاي په نيويارك کي په داسي وخت کي را وبلله شوه چي د اسلامي امارت د مخالفينو اوږدي پوځي طرحي له غوڅي ماتي سره مخامخ شوي او د ملاتړ کوونکو هيوادونو پوځي او مالي پراخي مرستي د دوي په گټه نه وختلي ؟ د څه لپاره په عين وخت کي د افغانستان پخواني پاچا دي ته اړ کړاي شو چي اوسني خوځښتونه پيل کړي ؟ سره له دي چي په ۲٦ کلونو کي د هيواد په ډيرو حساسو شيبو کي چوپ پاتي شوي دي او روغتيايي حالت بي هم له داسي خوځښتونو سره سرته خوري بيا له دغو خوځښتونو سره سم د ايتاليا د بهرنيو چارو استاځي دوره د څه لپاره وه ؟ او ورسره د امريکا د بهرنيو چارو دا خبره د څه لپاره وه چي دوي د پخواني پاچا د لويي جرگي ملاتړ کوي ؟ لويه جرگه به څوك رابولي ؟ چيرته به بي رابولي ؟ غړي به بي انتخابي وي که انتصابي ؟ او هغه به څوك او له کومو افغانانو څخه ټاکي ؟؟

لويه جرگه به په کوم قانوني او شرعي جواز په داسي حال کي رابلله کيږي چي د افغانستان زرگونو علماوو د هيواد له پاره په شرعي طريقه او شرعي بيعت سره شرعي امير ټاکلي دي او هغه د امارت د ټولو شرعي شرطونو جامع او په هيواد کي بي پوره امن ساتلي او شريعت بي نافذ کړي دي ؟ دغه او داسي نوري ډيري پوښتني له افغان مجاهد او مسلمان ولس سره کلکي مطرح دي او هيڅ ځواب نه لري ؛

په تيره بيا دغه پوښتني لا پسي زياتيږي چي د (۲+٦) هيوادونو په ډله کي روس او ايران هم دي چي هغه دواړه زمونږ په هيواد کي ارامي نه غواړي، د اسلامي امارت مخالفينو ته پوځي او مالي مرستي په ښکاره ورکوي او د م.م. موسسه په رڼو سترگو ورته گوري ؛

د افغانستان د ستونزي د حل په نوم د م.م. پخواني او اوسني هڅي له دغو ټولو پوښتنو سره مخامخ دي نو ځکه افغان ولس د شك په سترگه ورته گوري او د ستونزو حل نه، بلکي د بي شميره ستونزو زيږنده بي بولي؛

افغانان د پخواني پاچا په بي غرضه ، د اخلاص او همدردي په هڅو اعتراض نه لري مگر دا چي تر شا بي نور لاسونه ويني نو ځکه تشويشونه او شکونه را پيدا کيږي ، که چيرته م.م او نور لوري له شکونو او تشويشونو په ډکه فضا کي داسي هڅي کوي چي تحميلي پروسي رامخي ته کړي نو دا به دومره بي شميره ستونزي راولاړي کړي چي له اوس نه به زياتي وي، دا ځکه چي په افغانانو باندي تحميلي پروسي منل ډير منفي تاريخ لري په هيواد او سيمه باندي ډيري بدي اغيزي پري باسي ؛

ډيره ښه لاره دا ده چي افغانانو د اسلامي امارت تر واکمني لاندي د کراري سا کيښلي ده دغه حالت ور څخه وانخستل شي بلکي ملاتړبي وشي، دا به د م.م او (۲+٦) هيوادونو د اخلاص او نيکنامي تاريخي کار نامه وي

نن او پرون

مولوي محمد اصغر "عاكف"

پرون دي چي په آزاد او اسلامي افغانستان باندي د يرغلگرو روسانو د سرو لښکرو د وحشي يرغل او ناروا تجاوز غندنه کوله او د مظلومو افغانانو په بد حال دي اوښکي تويولي ، وير او ژړا دي ورسره کوله او د شوروريانو دغنه له شرمه ډك عمل دي د نړيوالو موازينو او گاونډيتوب له اصولو خلاف کارگاڼه .

نن ولي سترگي درباندي پټي دي چي هماغه حکړو ځبلي، په بي رحمه يرغلونو او تيريو وران ويجاړ افغانستان ته په بده سترگه گوري او بيځايه گوت، څنډني کوي د افغانانو گناه که داوي چي د خپل هيواد څخه بي د روسانو په شړلو خپله د ميړاني او شهامت شمله نيغه ساتلي نو بيا خو سمه ده ، کنه نو ښه پوهيږي چي په دي هيواد کي د جگړو له کبله هر څه له منځه تللي دي. افغانان څوارلس کاله د روسانو سره وجنگيدل او ددغي جگړي په ترڅ کي بي له يو نيم ميليون څخه زيات، خپل خواږه بچيان د اسلام او وطن د دفاع په لاره کي نذرانه او قرباني کړل، او له دغو نه زيات شمير بي د دښمن د توپونو او بمونو له لاسه گوډ شل او معيوب شول او سر بيره په دغو د ټول هيواد څلورمه برخه بي گاونډيو هيوادو ته په هجرت کولو اړ شول.

پرون خودي د زړه له تله د يو دردمن غوندي له خولي ساړه اسويلي راوتل ويل به دي کشکي داسي زيري راباندي وشي چي افغانستان د تيري کونکو روسانو له وحشيانه منگولو څخه وژغورل شول او روسانو ماته وخوړه ! هسي نه چي دا ستر اوظالم ښامار، يو ځلي افغانستان له خپل ستوني تير کړي او بيا يو خوا او بلخوا تر مورږ پوري د اور په اسويلي کي وسوزوي.

نن خو چي د لوي خداي په مهرباني د افغانانو په ميړانه او شهامت او د هغوي د راز راز قربانيو په برکت او ټينگ ايمان په تيره توره هماغه ظالم ښامار په منځ دوه ترانگي او په بدن توټه توټه شو چي ته هم ورڅخه بيغمه شوي او بل هم خو د روسانو د خپل هغه خصلت له مخي چي کله د بيوسي او ناچاري له امله کتوه باروي نو شاته د اور سکروټي پريږدي او بيا په وطن اورلگوي روسانو د خپلي ماتي خوړو د جبران او پټي لگولو په منظور يو ځل بيا د خپلو شومو اغراضو د پلي کولو په مقصد، د خپلو نوکرانو په لاس خبره په افغانستان کي خپل منځيو جگړو ته راوسته که څه هم دا گناه خو ټوله ستا نده بلکي د هغه چا ده چي لا تر اوسه د خپلي گناه نه توبه نه باسي او لا تر اوسه بي دښمن نه دي پيژندلي، خو هغه د چا خبره ده چي «پلاني ميړني په ملاوهي» افغانانو ميړانه کړي ده ، جهاد بي کړي دي او قرباني بي ورکړي دي حقيقت روښانه دي چي چا څه وکړل او څوك څه کوي او تاته هم وايم چي پرون دي څه ويل او نن څه کوي !

پرون دي چي پخپلو شعارونو او ديوالو پر ډډه په سپين رنگ او ښايسته ليکنو کي د افغانستان اسلامي جهاد او وگړني پاځون د عالم اسلام او د سيمي د دفاع له پاره وسپنيز ديوال او ټينگ مورچل گاڼه په غونډو او کانفرانسونو کي دي د افغان مجاهدينو او مهاجرينو مرسته او حمايه کوله افغانانو ته دي د ورپيښو ستونزو په هکله د صبر او ثابت قدمي توصيه کوله .

نن دي ولي نه هماغه مرکي شته او نه هماغه صميميت او زړه سواندي ؟ که خبره يوازي در وسانو تروتوده نو هغه خو د هرچا غوښتنه وه او که د اسلامي جهاد څخه مقصد، د روسانو له شړلو وروسته په افغانستان کي د يو سوچه اسلامي او شرعي نظام راوستل او بشپړ امنيت قائمول ؤ نو هغوي هم په سترگو ويني چي الحمد لله دواړه راغلي دي خو پوښتنه دا ده چي خوښ نه بي نپوهيږم چي دا ولي او په څه ؟

پرون خو د خواخوږو دوستانو په قطار کي راته ولاړ وي په ښکاره خو دي ځان ټولو افغانانو ته په مينه او اخلاص کي ډير نږدي معرفي کاو او د هر راز مرستي کولو په اعلانولو دي يو زيات شمير افغانان د سختي په سهال کي کورته د مهاجرو په سفت دروغـرښتـل او د راديو په څپـو کي خودي هر سبا او مابنام خپرول چي زه نه خښځ غواړم او نه لوبديځ بلکي په افغانستان کي د يو سوچه اسلامي او شرعي نظام غوښتونکي يم.

نن خو دي په افغانستان کي د اسلامي حکومت په راتلو او محمدي «ص» غراي شريعت په نافذيدو غږ او څيره دواړه بدل شول. او درغوښتي مهاجرو ته به دي خامخا د بيرته شړلو د خداي په اماني په سهال داسي ويلي وي چي وروڼوا تاسو خفه نشي ما خو هسي ځانته د حاتم طايي لقب ورکړي و کنه زما د ستر خوان له ووړي دومره ډك نه دي چي ځان هم پري موړ کړم او تاسو هم، تاسو په بيرته خپل هيواد ته ځانونه ورسوي نن سبا اراده لرم چي د ستاسو د هيواد پولي ته له ټانگو او طيارو سره درشم تر څو د افغانستان خلکو ته خپل زور ورښکاره کړم ځکه چي هغوي له ما سره په لومړي سر کي مشوره نه وه کړي د ماخو بو څه په زړه کي ؤ خو هغوي بل څه وکړل .

نن چي دلته د اسلامي امارت د واحد قيادت لاندي وسله ټوله شوي مختلفي ډلي ټپلي له منځه تللي، بشپړ امنيت، منځته راغلي، د افغانستان ټول قومونه په يو واحد او مرکزي امارت باندي د زړه په مينه راټول دي، د هيواد په سلو کي نوي برخه دارامي او خوشحالي احساس کوي چي په دي سره د اسلامي امارت ټول هغه شرطونه پوره کړي دي چي د نړي د هيوادونه او د ملگرو ملتونو موسسه بي په رسميت پيژني خو دا چي د ملگرو ملتونو موسسي تر اوسه دا کار ونکړ دا د تابيوسي ده او که په سر دي کومه بله بلا ده او که د افغانستان په دغه حق سترگي پټوي.

لويه جرگه :

قاضي محمد حسن «حقيار»

حقيقت که هسې افسانوي مفهوم

ضرورت که فرمايش

د افغانستان د تير شل کلن بهير تاريخ گواه دي چي هر کله چي په افغانستان کي د سولي کوتري په الوتلو او د جگړي د لمبو د پاي ته رسيدلو وخت رارسيدلي او يا خو په دي شهيد پاله ټاټوبي کي د نيکمرغي لمر ځرك وهلي دي نو د اسلام او ملت دښمنانو له هري خوا خپلي ناپاکي او زمونږ د کونډو او يتيمانو د هيلو په وينو ککړي سري منگولي راغزولي دي، او د ارمانونو او اميدونو دا کاروان بي تر منزل مخکي په مزل کي لوټ کړيدي همدا تاثير دي چي د نيکمرغي ، ورورولي سولي او ملي وحدت هم لا په دي نه دي توانيدلي چي زمونږ په جل وهليو هيلو او وچو شونډو خپل وزرونه پوره وغوړوي، نړيوال په دي حقيقت خبر دي چي روسان د مجاهدو افغانانو د ټوپك شپيليو له افغانستان نه وتلو ته اړ کړل او همدا د مجاهد ملت د غيرت او شهامت څپيړه وه چي قطبي ابړه بي په گونډو څه چي حتي روح بي تري وويست خو نړيوال استکبار ددي لپاره چي افغاني مجاهد ولس له دي ستر وياړ نه بي برخي کړي او روسانو ته پر څه د ختي پوزه کيږدي نو د جنيوا ترون بي ورته پلمه کړ . همدا راز کله چي نړيوال استکبار په دي پوه شو چي د روسانو د وروستي گوډاگي رژيم له کالبد نه هم روح په وتلو دي او مجاهدين به واك ته رسيږي نو په ډيره چالاکي او زرنگي بي د خپلو گوډاگيانو جامه بدله کړه د ائتلاف او امتيازاتو په ويش بي خپل هغه جاسوسان او نوکران صحني ته راوړاندي کړل چي مجاهد ملت لا پوره پيژندلي نه وو چي يواځي د څهرو په بدلون بي هماغه پخواني نظام په کابل حاکم کړ . چي په دي ترتيب بي د ټول اسلامي امت هيلي له نهيلي سره مخ او د اسلامي نظام د نفاذ او ټينگښت مخه ونيوله. همدا راز د هجرت او جهاد په محيط کي بي د مجاهدينو تر منځ د ورورولي او يووالي روحيه لاله هماغه پيل نه وژلي وه او په لسگونو فرکسونونه بي زيږولي وو او که کله به د ځنو مصلحينو او خير غوښتونکو د هلو ځلو په اغيز کوم اتحاد جوړ شو نو د اتحاد جنين به لا په رحم کي وو چي دوي به بي د پيسو، امتيازاتو او وعدو په ورکړه په رهبري کدرکي ځني کسان خپکي کولو ته پيدا کړي وو اوس چي د ملت د سپيڅلي توکي په ميړانه او د زرگونو اراوو په قرباني په هيواد کي امنيت تأمين، شريعت نافذ تر ډيره حده د غلا، چور او ملوك القوماندانۍ مخه نيول شويده او افغانانو لپاره نسبتاً د ژوند شرايط برابر شويدي او په ټول هيواد کي د ملي وحدت، مځکني بشپړ تيا او د اسلامي شريعت د نفاذ ستوري سترگکونه وهي نو ښکيلاك يو ځل بيا د خپل هميشني خوي له مخي هڅه کوي چي د افغانانو ددي سوکاله ژوند مخه ونيسي، په افغانستان کي د جگړي لمبي ژبغړانده کړي او په خرو اوبو کي کبان ونيسي، او يا خو خپل تجربه شوي او روزل شوي او د هغوي گټو او اهدافو ته وفادار گوډاگيان په افغانانو تحميل کړي . داسي گوډاگيان چي پرديو ته په خپل ولس نه ځله ترجيح ورکوي همدا لامل دي چي د افغانستان د موجوده اسلامي امارت د په رسميت پيژندني مخه بي هم نيولي ده او په سياسي او نظامي ډگر ورته راز راز ستونزي هم پيدا کوي اوس چي د شمال په اکثرو ولايتونو کي هم د پردي پالو تغر ټول شو او لا درگر ده ټوليږي نو د لويي جرگي په نوم بل کمپاين بي عنوان کړيدي او په دي ترتيب غواړي چي يو خو په دي کار سره د موجوده حاکم نظام په اړه د افغانانو په ذهنونو کي تشويش او انديښني راولاړي کړي او تقريباً غير مطمئن جريان بي معرفي کړي او مخالفينو ته به بي چي اوس د ژوند او مرگ په کشمکش کي قرار لري هم يوه تبليغاتي وسيله ورکړي او له بلي خوا غواړي چي خپل روزل شوي او تمرين شوي گوډاگيان يو ځل بيا وازموييي او ځان ويوهوي چي په افغانانو بي د تحميل څومره امکانات شته دي؟

اوس چي د لويي جرگي ټيکه داراتو د دوي په اصطلاح په افغانستان کي اضطراري حالت اعلان کړيدي سړي نه پوهيږي چي له اضطراري حالاتو څخه د دي جنابانو هدف څه شي دي ؟ دوي اضطراري شرايط څه ور تعبير وي؟ اوس خو د افغانستان په غوڅ اکثريت يا نوي په سلو کي خاوره کي امنيت تأمين، شريعت نافذ او کار او ژوند ته زمينه برابره ده نو اضطرار يعني څه ؟

په افغانستان کي اوس اضطراري شرايط دي او که دا تير اولس کاله چي په ټول هيواد د جگړو اوربل وو ؟ په هغه وخت کي ولي لويه جرگه نه راغوښتل کيدله ؟ اوس د لويي جرگي د دايرولو لپاره کوم خارق العاده ضرورت پيدا شو ؟ آيا په رښتيا هم لويه جرگه د افغانانو د تپ پټي ده ؟

پاتي لري

زنداني طالب

نور محمد لاهو

هلته لیري تورو تورو غرونو شاته
هلته لیري د اغزني پنجري څنګ ته
یو طالب په وینه ګوري
د خلاصون شینکي خوبونه
د ژوندون او مرګ پر زخ کي
کله دا خوا کله آخوا آخوا ګوري
* * *

هلته لیري تورو تورو غرونو شاته
هلته لیري د لوګیو ګردلو کي
د لمبو د ژبو څنګ ته
د سرو وینو سیند په خوا کي
د زخمونو په چاودلي کروندو کي
یو له پلاره دوري دوري
له بهاره لیري لیري
یو وړوکي طالب پروت دي
په پښو یې چړي خښې
په زړګوتي یې د غشو
راشنه شوي ځنګلونه
منتظري شان مورکي ته
د یو باد په وزرو استوي دا چیغي :
ادکي ! زه یو میلمه وم درنه لاړم
په حجري باندي مي ډیر کوه خیالونه
هلته لیري تورو تورو غرونو شاته
یو ګلاب اورکي سوزیږي
له خولګي ته یې امیل د اسویلیو
ځي کړي کړي آسمان ته
او ترڅنګه یې یو ښکلي کتاب پروت دي
یو خیرن او اغزن لاس دي
اړوي را اړوي یې ورته پاڼي
لټوي یکي په بیړي
د برینهو مستو پیغلو
سپینو سپینو شانو لیچو
او ورنونو تصویرونه
* * * *

هلته لیري تورو تورو غرونو شاته
ښایسته طالب جان ګوره
په سرو پرښویي خوري وي
لکه سري ګلپاڼي پاڼي
د تن غوښي یې پرتي دي
له یو بل نه لیري لیري
د کارغانو پري میلي دي
د وحشي ژویو خوراك دي
د سپرلي تنکي ګلونه
هلته وینو باندي سره دي
د پګړیو درمندونه
* * *

هلته لیري تورو تورو غرونو شاته
د طالب غوږونه چاود شول
د ټوپکو په غږونو
خوته ګوره غلي ناست سندري
اوري
پیي پیي مرغلري
مدام څښي له ښکلو سترګو
له جادو سره شکري
کوم قامت چي ته یې سیوري ته
اوس پروت یې
او پري باسي
د ځواني اوپدي ستړ باوي
د اقامت د یو طالب دي
د کوم سیند په آئینو کي
چي تصویر د سبا ګوري
دا خو اوښکي
د بندي شاني طالب دي
چي د تورو پنجرو شاته
د څلورو دیوالونو په تابوت کي
تل په وینه باندي ګوري
د خلاصون شینکي خوبونه
د ژوندون او مرګ پر زخ کي
کله دا خوا
کله آخوا آخوا ګوري

حکایت

جوهر اگر در خلاب افتد همان نفیس است و اگر غبار برفلك رود همان خسیس استعداد بی تربیت دریغ است و تربیت نا مستعد ضایع خاکستر نسبت عالي دارد که آتش جوهر علویست و لیکن چون به نفس خود هنري ندارد با خاك برابر است و قیمت شکر نه ازني ست که آن خود خاصیت وي است .

چو کنعانرا طبیعت بي هنر بود
پیمبر زادگي قدرش نیـــــــفزود
هنر بنماي گــــــــرداري نه گوهر
گــل از خارست و ابراهیم از آذر

د شعر او ادب لړۍ

د ښکلاوي لیکي؟؟؟

داکتر شادمن

څرنګه چي په ګل کي رایحه او خوشبویي، په معطر جسم کي عطریت او په مقناطیسي او سینه کي د جاذبي قوه په مرموز ډول وجود لري همدغه شاني دغه ښېګڼي او اختصاصات په شاعرانه ادبي او ښکلابزو لیکنو کي پټي **اغیزي لري چي د لوستونکي روح عشق، عاطفه او اند خپلي خوا ته مجذوب کوي. دا پټه قوه له طبع یا شاعري قریحي څخه عبارت ده چي د شاعر او زښتو خوږو لیکوالو په ختهه کي اخښلي شوي او دا مزیت خاص دغه ډلي ته** نصیب شوي دي.

شعراؤ چي په هر مسلك ګام ایښي دي او ښکلاوي یې لیکلي دي متمدني دنیا ته یې داسي خدمتونه کړیدي چي ښایي د مخترعینو تر خدمتو دي په کمه نه وي یو شاعر د دوي په باره کي داسي وایي :

گل لا نه وي ترکیدلي چي وړمي یې راځي ده ته
د بلبلو نغمي اوري د بل عصر ګلستان کي
د مرغانو پروازونه په هګیو کي لا ویني
پلوشه د لمر لیداي شي د سپیدو څیري ګرېوان کي
کړي سپوږمي سره خبري له اسمانه سره هم لا
د بلبل په ژبه باندي دوي پوه شوي په جهان کي
عقل فکر هغه ځاي ته په هیڅ شان رسیدي نشي
د شاعر خیال ځاي نیولي په اتم نهم آسمان کي
چنګیز نشته اورنګ نشته شاه جهان ولاړ له جهانه
لا مغلو سره جنګ شته د خوشحال خټك دیوان کي
ډیر تاوده تاوده جنګونه پس له څه وخته سړیږي
خو جذبه د عشق او شعر نه سړیږي په انسان کي
د شاعر تودي خبري هم هغسي لا تودي دي
تل تر تله سوز موجود دي سوزان شعر در حمان کي

شاعران او خواره لیکوالان له ښکلا و سره مینه لري او ښکلاوي دوي ته د زړه خبري د حال په ژبه وایي .

پاتي لري

د زړه فوټي

رفیع

شو پسرلي په هره خوا پورکیږي سره ګلونه
په سمسه غر در او دیوار به وي خواره ګلونه
په پانه - پانه کي تصویر د شهیدانو ښکاري
چي د وطن په دردېدلي غــــر دي څــه ګلونه
د خاوري مخ به ولي فرش په سرو ګلونو نه وي
تري لاندي پټ چي دي تر دي ګلونو ښـه ګلونه
سـتا عظیم قسم ته شهیده یوه ډالي ده کنه
د جنت ګلو ته فـــاني ګلونه نه ګلونه
چي د شمونو لوږي - لوږي غرني وسپېږي
خاونده کله به غوټي مي شي د زړه ګلونه

غافل مباش

ع.ر.گ

در جـهـان امروز بي پروا مبـاش
فـارغ از اندیشـه، فـردا مبـاش
کـشـتي بي پیدا کن و بنشین در او
ایمن از غـرقـاب این دریا مبـاش
بیخـبـر از ناله، شبـهـا، مشـو
غـافل از احـوال مظلومـهـا مبـاش
در پي خـود کن دعـاگـویان نیك
بد مکن با مـردمان، تنهـا مبـاش
دل بـسي در جنت و اخـري ببند
بي هواي جنت المـأوا مبـاش
نیکویي کن تو و نیکو نام شـو
بد مکن مشـهـور در ایذا مبـاش

راديو صداي شريعت و نياز عامهٔ مردم

استاد گل احمد ویماء

از چندي به اینطرف، در محتـواي برخي از پروگرامهـاي رادیو صـداي شریعت، تغییراتي آمده است که نوید آنرا میـدهد که رادیو صـداي شریعت توانایي آنرا پیدا کرده است که بتواند در خدمت عامه، مردم قرار بگیرد.

از هنگامي که نام رادیو افغانستان به رادیو صداي شریعت تبدیل شد، هدف آن بود کـه از اسـاس و بنیـاد این وسیله، ارتباط همگاني از حالت ابتذال و بیهدفي و سـخنگویي براي دسـتگاههـاي قـدرت بیرون شود و در خدمت شریعت کـه در حقیقت خدمت به عامه مردم است در آید.

به نظر مـا نشـرات رادیو صـداي شریعت یك تغییر بنیادي باید بکند و این تغییر بر اساس فرق میان آنچه نشـرات اختصاصي و نشرات عمومي یا نشرات خاصه و نشرات عامه گفتیم باید عیار گردد.

بدین معني که نشرات اختصاصي که در پروگرامهاي اختصاصي مانند معارف، صـحت ، پولیس، اردو، امنیت، سـره میـاشت ، و ... انعکاس پیـدا مي کند از میان برود و صرف نشرات عمومي و اخبار و تفاسیر به نشر برسد.

به نظر مـا، رادیو صـداي شریعت همین اکنون به آن درجه از تکامل رسیده است که کارکنان آن بتوانند به تهیه نشرات عامه دست بزنند و عـامه مـردم را به رادیو و رادیو را به عامه، مردم نزدیك کنند و رسـالت رادیو را در بلند بردن سطح فـرهنگ و اگاهي مردم و همـاهنگي حیات ملي و تفاهم میـان بخشـهاي مختلف مردم که در مناطق مختلف حیـات به سـر مي برند، به انجـام برسانند.

براي اینکه، این مأمول انجام بپذیرد، به درجه اول، یك دفتر پلان گذاري برنامه هاي روزمره ایجاد شود که مشخص نماید در برنامه هاي صبح، پیشین و شام رادیو از کجا مطالب تهیه شود و این مطالب چگونه ارائه گردد، و شامل چه موضـوعـات باشـد ؟ مسـؤولین تخنیکي رادیو، تسـهیلات لازم براي ثبت از خارج اسـتدیو و داخل سـتدیو، محـلات مشخص خارج رادیو و بخشـهـاي مختلف مناطق مختلف شهر و کشور فراهم نمایند.

همین اکنون باید از دستگاههاي مختلف مخابراتي بین ولایات، تیلفونهـاي شهري و سـتلایتهـایي کـه در نزد مسـؤولین امـارت اسلامي و وزارت مخابرات در ولایات و مرکز وجود دارد مسـوولین تخنیکي رادیو صداي شریعت استفاده اعظمي نمایند.

مراکز فرهنگي چون کتابخانه ها، گالري ها، کلوپها، آرشیف ها، پارکهـا، موزیم ها، تیاتر ها، سینما ها، ادیتوریم ها، جمنازیوم و استدیومهاي ورزشي و دیگر محلاتي که در اختـیـار وزارت اطلاعـات و فـرهنگ، وزارت دفـاع، وزارت داخله، استخـبارات و مکاتب، پوهنتـونها، اکادمیـهـا و سایر دوایر و وزارت خانه ها قرار دارد، میتوانند بهترین محلات ثبت آرمـانهـا، آرزو ها، عـقـاید، اخبـار، پیشنهـادات و سخنرانیها و دیگر فعالیتـهاي خبري و فرهنگي عـامه مردم و مخصوصاً مجاهدین و طالبان باشد.

نگاهي بر برنامـه ترانه هاي فـرمـایشي نشان میدهد که طالبان چقدر علاقـه دارند تا در پروگرامهاي رادیو سهیم باشند.

به نظر مـا ترانه خواني که یك دست آورد مـهم فـرهنگي در رادیو است به صـورت بسیار وسیع از طرف طالبان و مجاهدین مورد استقبال قرار گرفته است . ترانه خوانان ما و کمپوزیتور ها نیك دانسته اند که این ژانر آهسته آهسته عام مي گردد و نتایج ثمر بخشي میدهد، مخصوصاً که درین اواخر برخي از ترانه خوانها همانند «شمس الله همدل» به وجه نیکو اشعـار وضـعي - طبیـعي را در داخل ترانه ها نموده است که خود یك ابتکاري است کـه جـاي آن در ترانه ها خـالي بوده است . اشعار وصف طبیعت شاعراني همانند فرخي و منوچهري بهترین مآخذ کلاسیك است که براي ترانه سازان و ترانه سرایان ما میتواند الهام بخش باشد.

استفاده از آواز هاي طبیعت (آبشار، پرنده گان، باد، طوفان، دریا، و غیره) در تنظیم برخي از ترانه ها و کمپوز صدا هاي طبیعت به صورت مستقل بر اساس اشعار **و عام ساختن سمبولهاي صوتي در کـمپوز هایي کـه از صـدا هاي طبیعي و انساني میتواند مورد توجه قرار بگیرد. وبراي فعلاً جاي آلات موسیقي را پر نمایند.**

دفتر ترانه ها باید کمپوز هاي مستقل اصوات طبیعي را نیز در برنامه هاي کاري خود بیفزاید. برخي از تجاربي که درین زمینه قبلاً در برخي از پروگرامها مانند پروگرام سابق شعر و ادب اطلاعات و فرهنگ وجود دارد میتواند قسماً مورد توجه دفتر ترانه هاي رادیو صداي شریعت قرار بگیرد. برنامـه هاي دیني و پیـغـام صـبحگاهان از جمله، برنامـه هایي است کـه توانسـتـه اند راه خـود را بهـتر طي کـنند ازین رو کارکنان آن مي توانند برنامه هاي عامه را بهتر اداره کنند.

براي اینکه رادیو صـــداي شـریعت فـعالیت خـود را بهتر انجام بدهد، از جمله، کارکناني که تا کنون در رادیو کـار کـرده اند، آن عده یي را که علاقمند کـار در نشـرات رادیو بر اسـاس پالیـسي هاي امارت اسلامي در جهت ساختن برنامـه هاي رادیو شریعت براي عـامه مردم استند، در یك اداره، واحد جمع نمایند و آنهـا را به سـه دسـتـه تقسیم نماید :

۱- دستـه اداره کننده گـان عمومي برنامه

۲- دستـه تهیه کننده گان برنامه در داخل ستدیو

۳- دستـه تهیه کننده گان برنامه در خارج استدیو

البتـه متناسب با این سه گـروه فـرهنگي به سه گـروه تخنیکي نیز ضرورت است.

آنچه مهم است اینست که تهیه کننده گان برنامه در خارج رادیو نخست همکاري ادارات و مراکز فرهنگي و نشراتي سراسر کشور را به همکاري ریاست نشـرات و ریاست فرهنگ وزارت اطلاعات و فرهنگ جلب نمایند و بر اساس هدایت و حکم مقام امارت اسلامي افغانستان ، آن مراکز و ادارات مربوط ملکي و نظامي مکلفیت پیدا کنند که در تهیـه اخبار، تفاسیر، راپور ها، برنامـه هاي هنري، ادبي و فـرهنگي از طریق پرسونل مربوط خود اقدام نمایند. بر نامه از خارج استدیو یا توسط تیلفـون یا ضـبط الصـوت خبرنگاران یا ستلایت و وسایل مخابراتي به داخل ستدیو ثبت گردد و آن تعداد از برنامـه هاي وارده که قابل نشر است به اختیار اداره کننده گان عمومي برنامه، روز (صبح، پیشین، شام) قرار بگیرد.

و آنها بعد از آنکه پروگرام رادیو را با تلاوت قـرآن پاك و احـادیث نبـوي«ص» آغـاز مي کنند، از جمله، مطالبي که آمده است، جالبترین آنها را یکي پي دیگر نشـر مي کنند و در ضـمن همین مطالب تفسیر هاي سیاسي و اخبار نیز به نشر مي رسد.

برخي راپورتاژ ها نیـــز انتشار مي باید پروگرام اخبار بر اساس ساعت تعین نمي شود بلکه بعـد از هر مطلب یا چند مطلب و یك ترانه یا کـمپوز مستقل اصوات طبیعي به نشر میرسد.

اخبار مهم بار بار تکرار مي شود ، تفاسیر جالب چند بار خوانده مي شود البتـه یك سرویس اصلي خبري در یك وقت معین حتماً باید نشر شود. البته مطالب فرهنگي چون نشر مطالب تاریخي، حکایتي، ادبي، و روایت دیني و ملي در پهلوي مطالب علمي و مـعلومـاتي، سیاسي و اجتماعي داستانها، و جـیـزه ها و مـسـایل روز، مشکلاتي کـه در ادارات است و دیگر مسایل باید از طرف عامه، مـردم مطرح و در رادیو پخش شود .

باید کوشیده شود تا رادیو آیینه تمام تماي آرمانها، اندیشه ها و حیات عامه، مردم باشد که میخواهند از میان دشواریهاي مـوجـود، به یك زندگي عـالي مطابق شریعت اسلامي دست پیدا کنند و با استفاده از پیشرفتهاي تمدن معـاصـر جهـان آگـاهانه جامعـه آزاد، مرفه و پر قدرت اسـلامي را در امـارت اسـلامي افغانستان بسازند.

محترم عبدالشكور «مطمئن» رئيس عمومي ...

يعني (فيفا) فدراسيون بين المللي فتبال بطور ليك سراسري بين ۱٦ تيم كلپ هاي آزاد دسته اول كه بتاريخ ۹ ثور مطابق ۱٤ محرم الحرام آغاز و براي مدت ۳ ماه و ده يوم تحت نظر مستقيم فدراسيون ملي فتبال كشور اداره و كنترول ميگردد ادامه خواهد داشت . نتايج كه تا اكنون از جريان مسابقات بدست آمده است طور ذيل است :
در قسمت تورنمنت بهاري موجوده بايد عرض نمود كه طبق پلان و پروگرام مرتبه كميته ملي المپيك امارت اسلامي افغانستان و فدراسيون ملي فتبال كشور مسابقات به اساس پلان واحد سراسري كشور به منظور بلند بردن سويه تخنيكي و تكتيكي تيمهاي اشتراك كننده و رقابت هاي سالم سپورتي بين كلپ هاي آزاد ورزشي برگذار گرديده است درين مسابقات تيمهاي متذكره دسته اول رشته فتبال اشتراك نموده است .
زمانيكه از محترم مطمئن پرسيده شد كه از مسؤولين امارت اسلامي كدام درخواستي داريد ؛ چنين پاسخ دادند : تقاضاي ما از مسؤولين امارت اسلامي افغانستان اينست كه :
۱- اكنون عضويت كميته ملي المپيك ...در سطح بين المللي در حالت تعليق قرار دارد هرگاه حق العضويت فدراسيون هاي بين المللي را نپردازيم به حيثيت و پرستيژ كميته ما لطمه وارد خواهد گرديد خواهشمنديم به مقامات مربوطه هدايت دهند تا در قسمت پرداخت حق العضويت هاي فدراسيون هاي بين المللي اقدام نمايند.
۲- در قسمت عموميت و ترويج امور ورزشي در موسسات تعليمي و تحصيلي و ساير ارگان هاي دولتي فيصله صادر گردد تا در تمام ارگانها تيمهاي ورزشي تشكيل و در **فدراسيون هاي كميته ملي المپيك راجستر گردد.**
۳- در مورد تهيه البسه ورزشي تقاضاي ما از تجار ملي و مسؤولين امارت اسلامي افغانستان اينست كه در داخل كشور به احداث فابريكه توليد البسه سپورتي اقدام نمايند.
٤- اكنون كميته ملي المپيك با ۱٦٤ كشور جهان در تماس ميباشد كه دعوت نامه هاي مبني بر اشتراك ورزشكاران ما در مسابقات سپورتي و كنفرانس هاي بين المللي ورزش بدست داريم اما نسبت نداشتن بودجه كافي نمي توانيم در آن اشتراك نمائيم خواهشمنديم در اينمورد مسؤولين ما را كمك نمايند. مسابقات المپيايي كه بيست و هفتمين دور آن در سال ۲۰۰۰ در آسترليا برگذار ميگردد كه از همين اكنون ما پلان تدابيري و آمادگي ورزشكاران خويش را آغاز نموده ايم ، از وزارت امور خارجه تقاضا به عمل مي آوريم كه زمينه اشتراك ورزشكاران ما را در اين مسابقات مساعد نمايد.

د پاكستان پو پخواني وزير د خپل سگرت د اور په لمبو كي وسوځيد

نواي وقت : د پاكستان پو پخواني وفاقي وزير متقاعد كرنيل چوهدري قادر بخش ميله هغه وخت د اور د لمبو خوراك شو چي په خپل موټر كي ناست ؤ او د خپلو ملگرو د كښت تنداره يي كوله نوموړي د سگرت تر روښانه كولو وروسته نيم سوځيدلي اور لگيد له هنداري بهر وغورځاوه تر موټر لاندي د سوځيدو وړ بوټو د اورلگيد د اورله كبله اور واخيست او دي اور په وار سره د موټر د سون موادو ته اور ورته كړ چي په نتيجه كي يي موټر د اور په لمبو كي راگير او دي په خپله هم د موټر په منځ كي د اور خوراك شو، پيښي ته نژدي حاضرو خلكو هغه په بيړه د سيمي روغتون ته ورساوه خو مخكي له دي چي څه مرسته ورسره وشي نوموړي ساه وركړه او وفات شو . ښايي چي له دي رښتيني پيښي څخه هر څوك سبق واخلي او هيڅكله بي پروايي ونه كړي .

يك هيئت سازمان ملل متحد عازم يوگوسلاويا شد

يك هيأت پانزده نفري از طرف سازمان ملل متحد ديروز جهت انجام يك ماموريت بشر خواهانه عازم يوگوسلايا گرديد. اين هيأت ضمن سفر دوازده روزه خود نه تنها از كاسووا بلكه بلگراد و ديگر شهر هاي صربستان همچنان جمهوري مونتينگر و ديدار خواهد كرد .
كشور يوگوسلاويا هفته گذشته با اين ابتكار كوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد موافقت نموده بود. كارشناسان اين هيأت اعزامي سازمان ملل متحد قدر دارند با باز ديد از اين مراكز كمك هاي خود را هماهنگي بهتر بخشيده و خود را براي بازگشت آواره گان آماده سازند.

كلنتن موفق شد تا با رئيس جمهور چين از طريق تيلفون صحبت نمايد

بل كلنتن رئيس جمهور ايالات متحده امريكا با ژيانگ زيمن رئيس جمهور چين تيلفوني صحبت كرده است . رئيس جمهور چين قبلاً از مذاكره تيلفوني با رئيس جمهور ايالات متحده امريكا ابا ء ورزيده بود. بل كلنتن طي اين صحبت تيلفوني از مرگ سه كارمند سفارت چين در بلگراد در اثر بمباردمان هوايي قواي ناتو ابراز تأسف كرد . عده يي از مامورين ناتو برين عقيده اند كه چين با استفاده از مردم كارمندان سفارتش در بلگراد اعمال فشار ميكند تا آن سازمان را مجبور به سازش در مورد حل منازعه كوسووا نمايد.

در نتيجه همه پرسي قبل از انتخابات در اسرائيل رهبر حزب كارگر برنده شناخته شد

در نتيجه همه پرسي قبل از انتخابات اسرائيل در آنكشور براه انداخته شده نشان ميدهد كه اعود برك رهبر حزب كارگر از بنيامين نيتانياهو صدراعظم فعلي اسرائيل سبقت دارد .
در حاليكه قرار است انتخابات اسرائيل روز دو شنبه برگزار شود برخي از نظر سنجي هاي افكار عامه حاكي از آن است كه برك در نخستين دور انتخابات به اكثريت لازم پيروز خواهد گرديد. وي براي اولين بار از محبوبيت مهاجرين روسي زبان برخوردار گرديده در حاليكه نيتانياهو كماكان از حمايت راستگرايان برخوردار است .

د ناتو الوتكو د كوسووا پر يوه كلي بمونه وغورځول

د شمالي اتلانتيك د تړون سازمان يعني ناتو د كاسووا د شمال د كورشيا په كلي باندي د خپلو جنگي الوتكو بريد تائيد كړ چي له دي امله نژدي اتيا تنه ووژل شول .
ناتو د يوي وينا په ترځ كي څرگنده كړه په دغه كلي باندي په دي خاطر بريد شويدي چي يوه پوځي اډه او د صربيانو د قوماندي يو مركز په كي و . ناتو په دغه كلي باندي د خوشه يي بمونو غورځول چي صربيانو يي ادعا كړيده رد كړل او له دي امله يي چي يو شمير ملكي خلك پكي وژل شويدي انديښنه څرگنده كړيده . تر اوسه پوري دا نده روښانه شوي چي ملكي خلكو ولي په دي كلي كي ژوند كاوه دغه بمباري پرون په مسكو او بلگراد كي د سخت غبرگون سبب شوي او روسيي هغه يو جنايتكارانه عمل وباله .

پرورش گياهي كه در هر محيط نشو ونما كرده ميتوانه

محققان وزارت زراعت و مركز تحقيقات علمي جاپان از طريق ژنيتيكي گياهي را پرورش داده اند كه قادر است در محيط هاي سرد، گرم و شوره زار به حيات خود ادامه دهد . اين گياه در محيط هاي نا مساعد هورمون هاي از خود ترشح ميكند كه موجب بالا رفتن مقاومت نسبت به محيط ميشود. محققان جاپاني در جريان آزمايشهاي خود از گياهي بنام شينوتازوا استفاده كرده اند. آنان اين گياه را به مدت دو روز در سرماي شش درجه زيرصفر قرار دادند و به مدت ودو هفته به آن آب ندادند. درين شرايط گياهان خشك ميشوند اما گياهانيكه آنها دستكاري شده بود توانستند تا نودو نه فيصد به حيات خود ادامه دهند. آنان گفتند كه براي افزايش مقاومت در گياهان ژن پروتيني دي.آر.آي. دي را تغيير دادند كه اين ژن در شرايط نا مساعد موجب فعال شدن ساير ژن ها ميشود.
محققان جاپاني افزودند كه با بهره گيري ازين روش ميتوان اقدام به بالا بردن مقاومت گندم ، برنج و ديگر غلات در محيط هاي نا مساعد كرد .

نتايج مسابقات جدو ...

محترم عبدالوحيد از كلپ اردو در وزن ۷۰ كيلو گرام حايز مقام اول
محترم فرهاد از كلپ استخبارات در وزن ٦٥ كيلو گرام حايز مقام اول
محترم شفق اقرار از كلمپ المپيك در وزن ٦۰ كيلو گرام حايز مقام اول
محترم مسعود از كلپ استخبارات در وزن ٥٥ كيلو گرام حايز مقام اول
محترم هاشم از كلپ استخبارات در وزن ٥۰ كيلو گرام حايز مقام اول
محترم بريالي از كلپ المپيك در وزن ۷۰ كيلو گرام حايز مقام دوم
محترم سليمان از كلپ اردو در وزن ۷۰ كيلو گرام حايز مقام دوم
محترم وحيد از كلپ المپيك در وزن ٦٥ كيلو گرام حايز مقام دوم
محترم صفي الله از كلپ اردو در وزن ٥٥ كيلو گرام حايز مقام دوم
بايد تذكر داد كه در سلسله اين مسابقات تيم استخبارات مقام اول ، تيم المپيك مقام دوم و تيم كلپ سپورتي اردو مقام سوم را كسب نموده است

به سرويس گوش و ...

مريضان مصروف مي باشند يكي مريضان سرا پا كه بعد از انجام معاينه و توصيه ادويه لازم مرخص ميشوند و بخش دوم از مريضان نظر به لزوم ديد، داخل بستر شده و به اساس نوبت بجهت عمليات ثبت نام مي گردند .
قابل ياد آوري است كه تا كنون در اين سرويس عمليات هاي فوق العاده مهم موفقانه و قناعت بخش اجراء گرديده است .

مصارف يكماهه ليليه ...

كابل در حدود ۳٤۲۸ محصل در پوهنځي هاي چارده گانه پوهنتون كابل مصروف تحصيل بوده كه از جمله ۱٥۷۷ نفر جديد الشمول معرفي گرديده اند كه بيش از شصت فيصد آن ثبت نا ، كرده اند و منجمله ۲۷٥۰ محصل در ليليه به شمول محصلين انستيتوت طب كابل راجستر مي باشند كه از جمله بيشتر از يك هزار نفر محصل از پوهنتون و متباقي از طب كابل مي باشند. در رابطه به كار احياء برق پوهنتون اقدامات لازم صورت گرفته چندي قبل يكي از مهاجرين افغان مقيم انگلستان در قسمت نصب دو پايه ترانسفارمر براي تنوير ليله پوهنتون وعده همكاري نموده است . براي محصلين ليليه از طرف صبح چاي شيرين و يك قرص نان از طرف چاشت برنج باريك معه سالند و نان خشك، و از طرف شب سالند و نان خشك حواله و توزيع ميگردد. در مورد اباته آنها بايد متذكر شد كه براي هر نفر محصل دو تخته كمپل دو شك و بالشت داده ميشود. مصارف روزانه يكنفر محصل مبلغ ۱۸٤۷۹ افغاني براي سه وقت بوده كه مصارف يكماهه آن مبلغ ۱،٥۳۲۸۳۳۰٥۰ افغاني مشود . موضوع كار ترميماتي تعمير ليليه مركز كه قرار داد آن از طريق رياست محترم پلان وزارت تحصيلات عالي عقد گرديده است جديداً شروع گرديده است .

مليشه هاي وحشي باند ...

شندولو په كار كي خپل بشپر چمتو والي حرگند كر . د سمنگانو له ولايت نه د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكر په دي كتنه كي داسي حال كي چي د سمنگانو ولايت د فرقي مسؤل محترم مولوي عبدالقهار هم حاضر و محترم حاجي محمد نعيم انصاري محترم حاجي غلام محمد محترم حاجي كاشفي، محترم ملا جمعه خان او د سمنگانو ولايت د دره صوف ولسوالي مربوط اجري خم حوض اجرم زندان قدوق ، قرغني او د تيري د كليو حو تنو مخدورو او سپين ږيرو په وار سره د افغانستان د خلكو د دسمنانو د دسيسو او توطئو په باره كي خبري وكړي او د افغانستان له اسلامي امارت سره يي د زياتي همكاري ژمنه وكړه .

شوراي رهبري و ...

اسلامي و راه هاي بيرون رفت از مشكلات موجود را كه خصوصاً براي تربيه كادر هاي ورزيده طبي يك امر لازمي و ضروري است برجسته ساخته و رهنمايي هاي لازم را پيرامون موضوع ارائه نمود.

دځمكي د مطالعي او نقشي اخيستني د عمومي رياست خبرتيا

د ځمكي د مطالعي او نقشي اخيستني عمومي رياست په پام كي لري چي د لوگر ولايت د محمد اغي ولسوالي او ددغه ولايت د آب جوش التمور او آب چكان د دستو د ساحو د سروي كار پيل كړي .
لدي امله له هغو محترمو خلكو نه چي په دغو ساحو كي ځمكه لري غوښتنه كيږي چي د هيأت د ورتگ په وخت كي له اړوندو سندونو سره د خپل ملكيت په ساحه كي حاضر وي .

د SNA يا د سهار ...

هيڅ تشريفات يي نه درلودل په سادگي مو ورسره ليدنه كتنه وكړه او په ورين تندي يي زمونږ ټولو پوښتنو ته ځوابونه ووېل.

كار اعمار پل ساحه بند ...

حوادث ترافيكي مصؤون ميگردد. با رفت و آمد وسايط ترافيكي از مسير اصلي و سابقه مشكلات مردم و مسافرين نيز مرفوع ميگردد كار ساختماني اين پل طي دو ماه تكميل و به بهره برداري سپرده ميشود در مراسم آغاز كار ساختماني پل ياد شده محترم ملا محمد عيسي آخند سرپرست وزارت آب و برق محترم مولوي يار محمد رحيمي رئيس عمومي احياء و انكشاف دهات، محترم ملا عبدالحق حقاني ولسوال سروبي و نماينده دفتر انكشافي سازمان ملل متحد در كابل حاضر بودند.

بخش اناتيه بانك ...

ميداد .
بعداً رياست بانك خون در سال ۱۳٤٤ در چوكات وزارت صحت عامه به فعاليت خويش ادامه داد و نماينده گي هاي آن در ولايات كشور مانند قندهار، هرات، بلخ، فراه ، فارياب، بغلان، ننگرهار، خوست، كندز ايجاد گرديد.
همين اكنون بانك خون مركزي داراي هفت نمايندگي در شهر كابل بوده و ارتباط آن با ولايات كشور موجود مي باشد در حال حاضر رياست بانك خون مركزي در تعمير چهارده منزله شهر كابل موقعيت داشته و داراي ديپارتمنت هاي مختلف به شمول ديپارتمنت تحقيقات ايدز مي باشد.

په ننگرهار كي د ...

تر منځ په دي ورو ستيو وختو كي د ورزشي فدراسيون تر نظر لاندي د كابل په ملي ورزشي لوبغاړي كي پيل شويدي د جوانان ميهن د فټبال ټيم د صفر په مقابل كي په يوه سره د پامير د فتبال په ټيم باندي بريالي او د شعاع د فتبال ټيم د صفر په مقابل كي په صفر سره د ميوند د فټبال له ټيم سره برابر شو .
ددغو لوبو په پاي كي په فيض مشهور محترم محمود الله كندهاري د شعاع او ميوند د ټيمونو د لوبغاړو د هڅوني په خاطر ددغو ټيمونو چاړواكوته شپږ مليونه افغاني وركړي . دغه راز د واليبال په هغو لوبو كي چي د كابل ښار د اتمي ناحيي له مربوطاتو نه د شلو ټيمونو تر منځ پيل شوي وي د قلعچه، خمدان د واليبال ټيم لومړي مقام تر لاسه كړ .

د كندز ولايت د ...

كرامو عالمانو او د شعر او ادب يو شمير مينه والو گډون كړي و د غونډي په پاي كي هغه سرغاتونه چي د كندز ولايت د مقام لخوا برابر شوي وو ددغه ولايت د فرهنگي برخي په كار كوونكو باندي وويشل شول.

د جنگلك د كار خانو ...

د باختر د اطلاعاتي اژانس خبريال د جنگلك د فابريكي له سر انجنير محترم انجنير عبدالخالق سره د يوي مركي په ترځ كي خبر راكړ همدا اوس په دغي تصدي كي د فلز ريخته گري تركاني ماشينري يا دويم واحد ساتني او څارني كبي كشتي او د رنگمالي دستگاوي د مشوبينو د هلو ځلو له امله بيا فعالي شوي چي په دغو دستگاوو كي د غوري سمنتو د فابريكي د ضرورت وړ ول گلولي ، مشريك وزنونه د بخار ديگونه او لوښي ، چپركتهونه، دروازي او كړكي، ميزونه او الماري ، سيف او ميخانيكي ډيري دقيقي پرزي رنگمالي د انفرادي اشخاصو او د امارتي موسسو ادارو د نقليه وسايطو ترميم تر سره كيږي .
د فابريكي سر انجنير د بيلا بيلو توليدي برخو د بيا رغاوني او جوړوني په باب وويل همدا اوس د دوه ساختماني دستگاو له خوا د اداري او د فلز د ميخانيكي دستگاه په گډون د فابريكي د بيا جوړوني او د ترميمي كار دوام لري.
چي ټاكل شويده د سږكال په بهير كي بشپړ او د استفادي وړ وگرځي چي د هغه په بشپړيدو سره د يو سلو پنځه ويشتو ډول ډول ماشين الاتو د مونتاژ او درولو زمينه برابره شي چي په هغه صورت كي به د جنگلك د فابريكي توليدي ظرفيت په سلو كي پنځه اويا ته لوړتيا مومي.

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75.	US$150

تبصره

ثبات و پايمردي مجاهدين اردوي اسلامي دسايس شوم دشمنان را نقش برآب ساخت

طوريكه جهانيان و ملت مجاهد ما اطلاع دارند ر اين اواخر دشمنان اسلام به همدستي غلامان خويش توطيه هاي گوناگوني غرض افزايش تشنج و بروز شعله هاي جنگ در برخي از قسمت هاي كشور طرح نمودند و جهت تطبيق و تعميل آن از رهگذر مالي، تسليحاتي و بشري تلاش هاي وسيعي بخرج دادند بدين منظور وزير دفاع روسيه به تاجكستان سفر نمود، مسعود آمر مليشه هاي باغي نيز به استقبالش عازم دوشنبه شد، دولت حاكم تاجكستان كه هنوز هم يوغ اسارت روسها را از گردن به زمين نه نهاده اند ميزباني مذاكراتي را به عهده گرفتند كه هدف آن زمينه سازي براي ادامه جنگ و خشونت در افغانستان بود وزير دافع روسيه تلافي شكست هاي ارتش سرخ و جبون شان در افغانستان تا حال از حافظه اش دور نگرديده و آتش انتقام شان در برابر ملت مجاهد و روس شكن افغان تا اكنون هم مشتعل است با استخدام مسعود غرض تداوم تخريب و خانه جنگي درافغانستان احساس شادي و پاي كوبي نموده و آماده هر نوع همكاري با مليشه هاي باغي گرديد، پايگاه نظامي جديدي غرض آموزش و اكمال مليشه ها در سرحدات افغانستان تاجكستان منظور نمود و اعمار بندري بنام آي خانم در كنار درياي آمو بمنظور انتقال مواد تسليحاتي و لوژستيكي به باغيان روا داشت، از جانب ؛يگر دست هاي آشكار و مخفي ديگري نيز در اين پروسه سهيم گرديده و باغيان را از هر حيث به اين امر تشويق نمود تا آتش جنگ را دو باره شعله ور ساخته و ايجاد بي نظمي و آشوبگري نمايند، در نتيجه اين همه تلاش هاي مذبوحانه، چندي قبل دشمنان و مخالفين امارت اسلامي با نخوت و غرور فراوان بر مناطق تحت حاكميت امارت اسلامي حمله آور شدند، با همه آماده گي هاي قبلي، انواع جديد سلاحههاي ثقيل و خفيف را بكار بردند و از اعمال هيچنوع جنايت و وحشت اباء نورزيدند ، تا توانستند آتش ريختند، ويران كردند و خون ريختند، اما الحمد لله به ياري ايزد متعال و پايمردي مجاهدين دلير اردوي امارت اسلامي حملات انسجام يافته و دقيق مخالفين به شكست هاي فاحش مواجه گشته و دو باره به مواضع قبلي خويش فرار نمودند، البته در جريان دفاع قهرمانانه مجاهدين، سهم اهالي مجاهد مناطق مورد تهاجم قابل حساب و تمجيد مي باشد كه فرد فرد باشندگان مجاهد ولايت مختلفه كشور در مقابل وحشت مليشه هاي جنايت پيشه، قيام و جهاد را فريضه خود شمرده و قهرمانانه در پهلوي اردوي امارت اسلامي قرار گيرد و دشمنان را خوار و زبون به عقب نشيني مجبور ساختند، شكست هاي اخير مخالفين در مناطق شمال، اطراف سالنگ، خطوط مقدم شمالي و مناطق سركزي كشور اين حقيقت را وانمود مي سازد كه مخالفين ديگر به هيچ وجه توانمندي آنرا ندارند تا در برابر ماهدين اردوي اسلامي و ملت مجاهد افغان قد علم كنند و اگر احياناً بنا بر تشويق و هدايت با داران خارجي شان اين جرأت را به خود راه دهند چون گذشته زبون و ورشكسته مجبور به فرار خواهند گشت، براي مليشه ها بايد اين حقيقت ثابت شده باشد كه حمايت اجنبيان هيچگاهي راز موفقيت شمرده نميشود و در برابر اراده ملت مجاهد افغان دسايس دشمنان اسلام و غلامان شان هيچ اثري نخواهد داشت، با شكست هاي اخير مليشه ها حاميان اجنبي شان نيز بايد به اين نتيجه رسيده باشند كه ملت مجاهد افغان همچو نياكان مجاهد خويش پوز متجاوزين و مستكبرين را به خاك ماليده و آرزو هاي منحوس شانرا با خاك يكسان مينمايد، اگر حاميان و باداران خارجي مليشه ها صاحبان عقل سليم باشند بايد از سرنوشت مليشه هاي باغي در افغانستان درس عبرت آموخته و بيشتر از اين امكانات مالي و نظامي خويش را به باد فنا دهند، زيرا ملت مجاهد افغان به اتكا به نصرت الهي با قبول هر نوع مصايب و مشكلات بمنظور تحكيم نظام مقدس الهي در كشور شان كمر بسته و از اين كمتر به هيچ چيزي راضي نخواهند شد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press